# د چاربېتې هيئتي او فني مطالعه

## The study of art and technique Folkloric Genere *Charbaytha*

* Faizullah Panezai

♣ Dr. Kaleemullah Bariech

**Abstract:**

*Charbeytha*, the folk poetic genre literally means the Quartile or the poems that consists of four lines. This genre has been resonated in the width and length of the Pashtun territory irrespective of political and administrative boarders. Analysis of the diction and message indicates that this genre possesses a progressive mode and proliferating tendency in all times and spaces. In this paper the scholars have traced out some interesting aspects from within the genre and has also highlighted the underlying thread that connects the diction and message as whole. The discussion revolves around the specimen of the genres that are randomly selected as selected contents from different time and space.

د پښتو لوك ادب دپاره د اولسي يا عوامي ادب اصطلاح پكارولی شي، د پښتو لوك ادب په نظم او نثر دواړو مشتمل دی. په نظم كښې ټپه، لوبه، نيمكۍ او چاربېته وغېره شامل دي او په نثر كښې داستانونه، متلونه، محاورې او اړونه شامل دي.

لوك ادب مونږ په دوو برخو كښې وېشلی شو يوه برخه يې شفاهي يعني غير تحريري ده چې سينه په سينه آئينده نسلونو ته منتقل كيږي، په دغه كښې متلونه، محاورې، ټپې وغېره شاملې دي چې د يو قام مشتركه علمي پنګه ده. بل قسم يې تحريري دی، د لوك ادب تحريري قسم هم عوامي بڼه لري او دا هم د لوك ادب په زمره كښې راځي خو

* Faizullah Panezai is Assistant Professor at Department of Pashto University of Balochistan Quetta

♣ Kaleem Ullah Bareich is Assistant Professor at Department of History University of Balochistan Quetta

ليکـونکي يـې معلـوم وي. د چـاربېتې شـاعران چـونکې معلـوم وي ځکـه د لوك ادب دغه قسم د تحريري ادب په زمره کښې راځي.

مـونږ په دغـه مقالـه کښـې د چـاربېتې پـه حقلـه بحث کـوو نـو راځـئ چـې وړومبـې د لـوك تحريـري ادب د دغـه اهـم صـنف چـاربېتې وضـاحت وکـړو او د دغـه وضـاحت نـه پـس د چـاربېتې هيئتـي، سـاختياتي اړخ پـه حقلـه هـم خپله تجزيه وړاندې کړو.

چاربېتـه د اولسـي ادب يـو غـوره صـنف دی، د ټيـې نـه پـس دغـه صـنف د پښـتو پـه اولسـي شـاعرۍ کښـې د ټولـو نـه مقبـول دی، پـه چاربېتـه کښـې مختلفـې معاشـرتي، سياسـي، ثقـافتي، نفسـياتي او ټـولنيزې مسـئلې د بحـث موضـوع ګرځېـدلي دي، لکـه څنګـه چـې د شـاعرۍ پـه رجحانـاتو کښـې نـوې نـوې تجربـې شـروع شـوې دي هـم دغـه رنګـه د اولسـي شـاعرۍ دغـه هـر دلعزيز صنف کښـې هـم پـه هيئتـي لحاظ نـوو نـوو تجربـو تـه لاره هـواره شـوې ده، پـه هيئتـي لحـاظ چاربېتـه ډېـره رنګـارنګي لـري هـم دغـه شـان د موضـوعاتو د بيـان تـر مخـه هـم دغـه صـنف ډېـره زياتـه تنـوع لـري، پـه چاربېتـه کښـې چـونکې واقعـت پـه واقعـاتي انداز بيـانېږي ځکـه پـه کښـې د تخيـل پـه ځـای د تفکـر عمـل دخـل زيـات وي، پـه نـورو ټکـو کښـې مـونږ دا وئيلـی شـو چـې پـه چاربېتـه کښـې د شـعريت پـه ځـای نظميـت تـه زياتـه تـرجيح ورکـولی شـي او بلـه دا چـې داخلـي اهنـګ يـې د خـارجي اهنـګ په مناسبت زيات ځپاند ترنم لري.

د چـاربېتې شـاعران عمومـاً د اسـتعارو او علامتـونـو نـه ډډه کـوي او پـه زړه راښـکونکې پېرايـه کښـې ښـکلي ښـکلي تشـبيهات پـه چاربېتـه کښـې ځـايوي، د چـاربېتې شـاعران خپـل پېغـام بـراه راسـت پـېش کـوي ځکـه د علامتـونـو د پېچلـي نظـام نـه ډډه کـوي، دا ځکـه چـې عـام اولـس بيـا تـرې خوند نهٔ شي اخستلی.

چـاربتې تـه چاربېتـه ولـې وايـي؟ پـه دې اړه ډاکټـر اسـماعيل ګـوهر ليکي:

"چاربيتـه تـه ځنـې پښـتنو او غيـر پښـتنو محققينـو چهاربيـت ليکلـي دي او دا لفظـي بـدلون ئـې پـه خپـل دې قيـاس کـړی دی چـې چهـار فارسـی

کښې ځلورو ته وائي او بيت د شعر په معنٰی کښې اخستی شوی دی او دا شان د دې صنف نوم چاربيته شو. حالانکې چاربيته کښې د فارسۍ چهار نشته بلکې سم ساده چار دی چې په ګڼو اريائي او غير اريائي ژبو کښې د ځلورو په معنا کښې استعماليږي. د جنوبي ايشيا په ګڼو غير اريائي ژبو کښې د دې لفظ موجودګي دا ثابتوي چې دا کم و زيات ځلور زره کاله زوړ لفظ دی".(1)

د مضامينو په حواله چاربيته د ژوند سره تړلي هر ډول موضوعات په خپله لمن کښې ځايوي. چاربيته بيا په خپل کور کښې ډېر قسمونه لري د مثال دپاره يې دا يو څو قسمونه وګورئ:

د چاربيتې د لومړی قسم داسې وي چې مطلع يې د غزل غوندې قافيه او رديف لري. له مطلعې نه وروسته د بندونو کړی وي چې هغه په خپل مينځ کښې په قافيه کښې او کله کله په رديف کښې هم سره برابرې وي. له هغې وروسته يې د مطلعې د لومړی مصرعې غوندې پابنده مصرعه راځي بيا د مطلعې دويمه مصرعه ورسره راغبرګيږي. د مثال په ډول:

"څوک په پيدا نهٔ شي د فرهاد او شيرينۍ په شان
يو ځای به څوک نهٔ شي د ادم او درخانۍ په شان

يو ځای به څوک نهٔ شي لکه وو عاشق فرهاد
تل به يې کولو په اشنا پسې فرياد
وه يې کړه خواري ځکه حاصل يې شو مراد
کړې به يې خبرې د طوطا او ښارونۍ په شان
يو ځای به څوک نهٔ شي د ادم او درخانۍ په شان

کړې به يې خبرې د مجنون د مشغولا وه نه
بل به يې څهٔ نهٔ وو خو په خولهٔ به يې ليلا وه نه
وچ شو لکه دړه د خاوند په دې رضا وه نه
بيا به ګرځېده په دهٔ پسې د لېونۍ په شان
يو ځای به څوک نهٔ شي د ادم او درخانۍ په شان"(2)

د چاربيتې دويم قسم د مستزاد په شان وي يعني مطلع يې يوه اوږده او بله لنډه وي او دواړه په خپلو کښې هم قافيه وي له هغه وروسته بندونه يا کړۍ وي د هر بند درې مصرعې په خپلو کښې هم فافيه وي او څلورمه مصرعه د مطلعې هم قافيه راوړل کيږي ورپسې د مطلعې دويمه مصرعه تکراري راځي دا چاربيته د مستزاد په شکل کښې په داسې ډول ده:

"مخې له راغله محبوبا په سر يې شال د مزې
سپين يې جمال د مزې

مخې له راغله محبوبا شومه پر کاله
د يارانې په بند يې بند شوم بې مجاله
د سهېلو په مينځ کښې ځي کړه له خياله
بل يې وهلی په لنډۍ زنه شين خال د مزې

سپين يې جمال د مزې(3)

دغسې د چاربيتې اتۀ يا نهه قسمونه دي چې اکثر ټول دغسې سره نزدې دي په ځينو چاربيتو کښې ځينې انفرادي توپيرونه راځي خو په مجموعي توګه له دغو انفرادي توپيرونو پرته د چاربيتې ټول قسمونه ډېره سره ورته دي. د مثال په توګه د دريم قسم چاربيتې انفرادي توپير داسې دی چې د مطلعې يعني د سر مصرعې يې څلور وي او ټولې قافيې لري لومړۍ او دريمه مصرعه يې په قافيه کښې سره برابرې وي دويمه او څلورمه مصرعه يې په قافيه کښې سره برابرې وي. د غسې د مينځ بندونه يې هم طاق مصرعې له طاقو مصرعو سره او جفت مصرعې له جفتو مصرعو سره برابرې وي. وروسته بيا د مطلعې له لومړۍ مصرعې سره هم قافيه مصرعه راځي بيا د مطلعې دويمه مصرعه ورسره راګرځي. د چاربېتې بل قسم داسې وي چې مطلعه يې څلور هم وزن او هم قافيه مصرعې لري وړومبۍ او دريمه په يوه قافيه کښې او دويمه او څلورمه په بله قافيه کښې وي ورپسې د مطلعې د وړومبۍ مصرعې هم قافيه مصرعې راځي له هغه وروسته د مطلعې

دویمه مصرعه تکرار وي یعني بیا بیا راځي هسې خو پښتو ادب کښې داسې ډېرې چاربیتې شته خو دلته د مثال په ډول د یوې چاربیتې یو بند وګورئ:

"څو به سترګې مو په غم کښې د ویت نام نم وي
خوار اولس چې یې په جنګ او په جدال دل شو
ډك له وینو به تر کومه دا ایام یم وي
چي دنیا کښې د خوارانو په قتال تل شو

څو به سترګې د بې وسو کړي ازار زر ته
چي د سرو وینو په مخکښې د فساد سد دی
اخیر رسو به د ګټې د کوهسار سر ته
که په یو ځل پرېوتو باندې مو شاد شد دی
په دې څۀ چې مو څۀ وخت وکړلو وار ور ته
اوس مو ښۀ طرح ګیر کړی دی برباد بد دی
که ژوندی وي پس له دې به یې سر سام سم وي
څو به سترګې مو په غم کښې د ویت نام نم وي"(4)

دغسې د چاربیتې ټول قسمونه له لړ لړ تو پیر سره پورتني شکلونه لري. ښاغلی قاضي عبدالحلیم اثر د چاربېتې په حقله لیکي:

"د پښتو ژبې په ادبیاتو کښې چاربیته د مثنوي او قصیدې مرتبه لري، یعني څۀ رنګ چې په مثنوي او قصیده کښې اوږده اوږده مضامین او لویې لویې کیسې ویلی شي، دا رنګ دا رنګه په چاربیته کښې هم دغه رنګ مسلسل مضمونونه راځي، په غزلو یا په مصرعو او نورو ملي شعرونو کښې اوږدې کیسې او مسلسل مضمونونه راځي، په عمومي ډول د چاربیتې دوه قسمونه دي:

ساده چاربیته، زنځیري چاربیته، چې شعرونه یې لکه د کړیو تسلسل تړون لري د مصرعو د تعداد په وجه د پورتنیو قسمونو چاربیتې نور قسمونه دا دي"(5).

د څلورو یا پینځو یا شپږو یا اتو یا نهو یا لسو مصرعو ساده چاربیته هغه وي چې دوه کړیزه، څلور کړیزه، پنځهٔ کړیزه چاربیتې وي، د قسمونو په لحاظ د ځینو چاربیتو هر بند دوه یا څلور مصرعې لري او بله هغه چاربیته چې هر بند یې څلور مصرعې لري، دا حقیقتاً چاربیته یادیږي، د څلور مصرعو والا چاربیته کتالي چاربیته هم بللی شي. د چاربیتو قسمونه په پورتنیو قسمونو کښې مونږ په ښهٔ توګه کتلی شو.

داسې معلومیږي چې له کله راهیسې پښتانهٔ پیدا شوي دي، د پښتنو په خوند کښې د حجرې رواج شروع شوی دی او په دغه حجره کښې د همسنګ یارانو او همځولو دوستانو په جلسونو کښې د منګي کړنګ او د رباب ترنګ پیدا شوی دی، نو په دغه مجلسونو کښې چاربیتې له ساز او اواز سره ویل کیږي، بغیر د ساز نه د چاربیتې اواز مزه نهٔ کوي، په دې وجه داسې ویل کیږي چې چاربیته نهٔ صرف یو شعر دی بلکې یو اهنګ دی، یو ترنګ دی او یو ټکوردی".(6).

د موضوع تر مخه د چاربېتو د قسمونو په حقله ډاکټر حنیف خلیل لیکي:

"موضوع کے لحاظ سے چاربیتہ کی دو بڑی قسمیں ہیں، مجازی اور حقیقی یا عرفانی، لیکن اسکے علاوہ بھی دوسرے موضوعات محبت، عشق و عاشقی اور جنگی و معاشرتی وغیرہ چاربیتہ کے بڑے عناصر ہیں... لفظی ساخت کے پیش نظر ایک قسم کے چاربیتہ کے ہر بند کا آخری شعر بلحاظ قافیہ مطلع کے ساتھ مساوی ہوتا ہے اور ہر بندی کے اختتام پر بند کے آخری شعر کے بعد سارا مکھڑا مکرر دہرایا جاتا ہے، بند کے درمیان سارے مصرع آپس میں ایک دوسرے کے متحد القافیہ ہوتے ہیں، مطلع کے شعر کے مصرع بھی آپس میں ہم وزن اور ہم قافیہ ہوتے ہیں.... چاربیتہ کی دوسری قسم عوامی چاربیتہ کے مطلع کے دونوں مصرع ہم وزن تو ہوتے ہیں مگر ہم قافیہ نہیں ہوتے، ان کا ہر بند متحد القافیہ مصرعوں پر مشتمل ہوتا ہے اور بند کے آخری شعر کا مصرع اور مطلع کے پہلے کے مصرع ہم وزن اور ہم قافیہ ہوتے ہیں، تاہم آخری شعر کے دوسرے مصرع کیلئے مطلع کے شعر کا پہلا مصرع کام میں لایا جاتا ہے"(7).

"مونږ د چاربېتې په حقله مفصل بحث وکړو، د چاربېتې هیئتي جوړښت، د موضوعاتو تنوع او د چاربېتې مختلف قسمونو په حقله مو خپله تجزیه وړاندې کړه، د دغه تجزیې په رڼا کښې مونږ په دې نتیجه

رسېدلي يو چې چاربېته په خپله لمن کښې هر قسم موضوع ځايولی شي، د موضوع ځايولو دپاره د چاربېتې شاعرانو، عموماً د چاربېتې ګڼ قسمونه په کار راولي او په مختلفو استعاراتي علامتي او تلازماتي انداز خپل تخليق ته داسې وجود ورکوي چې په کښې د ذو معاني انداز سره سره د چاربېتې مخصوص اهنګ، ردم، موسيقيت، ترنم او برجسته انداز هم برقرار ساتي او خپل مافی الضمير په کښې په ډېر فطري انداز بيانوي، هم دغه وجه ده چې د پښتو ستر اديب همېش خليل د دغه هر دلعزيز صنف په حقله خپله درنه رائې په دې ټکو پېش کوي:

"چاربېته د خپل مخصوص اهنګ او لفظي ساخت په وجه يو داسې طويل نظم دی چې په مختلفو بندونو مشتمل وي، چاربېته عوامو کښې د خپل محبوبيت او مقبوليت په وجه زمونږ د ادبي ورثې يو داسې جز دی چې د خپل تهذيب، تمدن، ثقافت او معاشرتي ژوند عکاسي کوي. د چاربېتې لمن ډېره پلنه او پراخه ده چې د اولسي او عاميانه تفکر ټول اهداف او اندېښنې يې په خپل ځان کښې رانغښتې دي. چاربيته زمونږ د اجتماعي عقيدو او افکارو ترجمانه ده، او يوه داسې آئينه ده چې زمونږ سياسي، تاريخي او اجتماعي حالات په کښې ځرګند ليدی شي".(8)

❁❁❁

# حوالې


(1) ګـوهر، اسـماعيل، چاربېتـه- ابتـدا او ارتقـا، مشـموله تکتـو، پنځمـه ګڼـه، دريـم جلـد، پښـتو څانګـه بلوچسـتان يونيورسـټي کوټـه، جنوري- جون 2011ء، مخ83.

(2) نيـازی، حـافظ رحمـت او عبـد الرحمٰن کـاکړ، پښـتو ادبـي لاړ (دويم چاپ) يونائټډ پريس کوټه، 2012ء، مخ 203.

(3) ايضاً، مخ 204.

(4) ايضاً، مخ205.

(5) ايضاً، مخ206.

(6) اثـر، عبـد الحليم، قاضـي، د پښـتو چـاربيتې بـاغ و بهـار، پښـتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ26.

(7) خليـل، حنيـف، پشـتو زبـان و ادب کـی تـاريخ، (ايـك خاکـه) يونيورسـٹی بك پبلشرز کوئٹه، اګست 2009ء، ص214، 215.

(8) خليـل، همـېش، د چـاربېتې اوسـني شـاعران، پښـتو اکېـډمي پېښور يونيورسټي، 2007ء، مخ17.